مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۱/۱۹

# غزل

په مستۍ مست د لېونو لښکر دی
د خپلواکۍ د هسکو غرو لښکر دی

د غلامۍ په ځنځیر نه تینګیږي
د ویښو پیغلو او زلمو لښکر دی

د آزادۍ سندره سُر شوله اوس
راتول په ډول او نغارو لښکر دی

د پلار نیکه غرور به بیا وګټي
دا د ژوندو او مړنو لښکر دی

له تشه لاسه یې غلیم ویرېږی
د ننګ، غیرت او د جذبو لښکر دی

یه پسرلیه ستا تقدیر بدلېږي
دا د تورزنو ننګیالو لښکر دی

مصطفی پسرلی
16/01/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ